# وردگ پوهنتون
# د کرنې پوهنځی
# اگرانومي څانګه
## د تأسیس کال: ۱۳۹۳



پته: میدان وردگ ولایت، ټوپ دښته، د پولیسو اکادمي ته څیرمه،
وردگ پوهنتون
د کرنې پوهنځی، اگرانومي څانګه

## اگرانومي څانګې تاریخچه

وردگ پوهنتون د کرنې پوهنځي د داخلي انکشافي پلان له مخي د اقتصادي پالیسي په رڼا کې د ځوان نسل سالمي مسلکي روزنې په موخه په ۱۳۹۳هـ ل کې د اگرانومي او بڼوالۍ څانګو په تأسیس سره خپل فعالیت پیل کړ، په ۱۳۹۷هـ ل کې یې لومړۍ دوره فارغین هیوادوالو ته د خدمت په موخه وړاندې کړل. د اگرانومي څانګې چې د کرنې پوهنځی د بنسټیزه څانګه ګڼل کیږي تر اوسه پورې یې ۲۵۸ تنه محصلین د لیسانس په کچه روزلي او د ټولنې چوپړ ته وړاندې کړي دي؛ او ۹۸ تنه زده محصلین په زده کړو بوخت دي چې نظر او عملي زده کړیز بهیر یې د (٦) کسانو رسمي استادانو له لوري پرمخ وړل کیږي. د کریډیت د لایحې او نوي کریکولم مطابق د اگرانومي څانګې څخه د لیسانس کچې د فراغت په موخه ۷۲ تخصصي، ٦٠ اساسي، ۴۵ پوهنتون شمول او ٦ اخیاري کریډیټونه چې ټول ۱۸۳ کیږي، شرط ګڼل شوي دي.

## لرلید

د اگرانومي څانګه د هر اړخیزې پراختیا لپاره د عملي او مسلکي کادرونو په روزولو او د علمي څېړنو له لارې د هیواد په کچه د کرنې پوهنځی د مخکښې څانګې په توګه وپیژندل شي.

## رسالت

د اگرانومي څانګه هڅه کوي چې د علمي او مسلکي کادرونو په روزلو او د څېړنو له لارې د اگرانومي علم او په ذکرشوې برخه کې د نویې تکنالوژۍ معرفي او زیاتوالي ته یې پراختیا ورکړي، ترڅو د ټولنې وګړو ته د صحي او کافي خوړو تیارولو، پر مختګ او هوساینې زمینه مساعده شي.

## موخې

- د اگرانومي اړوند برخو کې د څېړنو ډیزاین او عملي کول.
- د نباتاتو کرنیزو عملیو په سالم ډول تنظیم، اداره او ورته مناسب محیط برابرول.
- د في واحد ځمکې څخه لوړ او دوامداره تولید ترلاسه کول.
- د اوبو او چاپیریال له ککړتیا څخه مخنیوی کول.
- د خاورې د حاصلخیزي ساتل او د تل پاتې کرنې اساسات عملي کول.
- د مصارفو کموالی او د میکانیزه کرنې میتودولوژي ترویجول
- د طبیعي آفاتو او ژوندیو تخریبي موجوداتو په سبب د ضایعاتو مخنیوی او سالم مدیریت.
- دبېړني حالت د کابو کولو، د عرضې او تقاضا توازن ساتلو لپاره د غذایي موادو د ذخیرې او پروسس اداره کول.
- د فابریکو دوامدار تولید ته دخامو موادو تهیه او د بهرنیو اسعارو ترلاسه کول.



کمپیوټرلب



کتابتون



درسي خونه



جامع جومات

**Wardak University**
**Faculty of Agriculture**
**Agronomy Department**



Address: Maidan Wardak Province, Dasht Top, Police Academy, Wardak University, Faculty of Agriculture, Agronomy Department

## Mission

The department of agronomy is trying to introduce and increase the knowledge of agronomy through scientific and professional teaching and research, also introduce new technology in the mentioned area. In order to prepare healthy and sufficient food and other necessary items for the people of the community, development and prosperity well-be facilitated.





## Vision

For the relative developments of agronomy department though, scientific and professional instruction and practical research, it should be known as leading developed department of the faculty of agriculture at county level.

## Objectives

- Design and implementation of researches in agronomy field
- Managements of good agricultural practices and maintaining of suitable conditions for crops
- Obtaining of high and sustainable production per capita preventing from water and environment pollution
- Conservation of soil fertility and implementation of sustainable agriculture principles
- Decreasing of cost and extension of agricultural mechanization
- Producing of row materials for sustainable production of factories and receiving foreign currencies